بسم الله الرحمن الرحیم

**امریکا د سیاسي اسلام د ځپلو لپاره د مسلمانانو تر منځ فتنې اچوي!**

**(ژباړه)**

په هغه اوږد سفر کې چې د امریکا د بهرنیو چارو وزیر پامپیو، منځني ختیځ ته درلود او ډېر دولتونه یې وکتل. په اسلامي خاورو کې یې د فتنې د تخم کرلو هڅه وکړه. پامپیو د ایران او افراطي اسلام غوښتونکو په پلمه د ګډ دښمن پر وړاندې د ګډ عربي ائتلاف غوښتونکی شو. هغه دښمن چې د دوی په ګومان، ګاونډي هېوادونه په ځانګړې توګه سعودي او خلیج ګواښي. پامپیو د همدغه سیاست پر اساس د سیمه ییزو مسایلو لکه د یمن، لبنان، سوریې او فلسطین د قضیو د حل غوښتنه وکړه. نو امریکا په هغو فتنو چې پخوا یې په اسلامي خاورو کې اچولې وې، بسنه ونه کړه او اوس غواړي لاتفرقه او فتنه واچوي. دا هغه څه دي، چې په قاهره او له سیمه ییزو دولتونو سره د امریکا د بهرنیو چارو وزیر په خبرو کې په ډاګه شول.

پامپیو د ۲۰۱۹م د جنورۍ په ۱۰مه د قاهرې په پوهنتون کې په خپلو خبرو کې وویل: «موږ تر ډېره کچې د وحشي او افراطي اسلام خطر راکم کړی. هغه اسلام چې فاسد انحراف یې له ایمانه اخیستی او هڅه کوي، نور دولتونه او دینونه له منځه یوسي.» پامپیو وویل: «پرېږدئ ښکاره درته ووایم، څو چې امریکا ترورېزم له منځه یو نه سي، هېڅکله له جګړې شاتګ نه کوي. موږ د داعش، القاعدې او نورو جهادیانو د ماتې لپاره، چې زموږ او ستاسو امنیت ګواښي نه ستړې کېدونکی کار او هڅه کوو. زموږ شریکان هم په سیمه کې د ترورېزم سره په مبارزه کې زموږ ملاتړي دي. لکه انګلیس او فرانسه چې د سوریې په عملیاتو کې له موږ سره همکار و او په نړۍ کې یې د ترورېزم پر وړاندې زموږ له هڅو ملاتړ وکړ. موږ د ایران د نظام د پلانونو د مخنیوي لپاره د خپلو شریکانو او هم ترونانو له هوکړه لیک څخه ملاتړ کوو.»

پامپیو زیاته کړه: «په دې کې شک نشته چې له نړیوالو بندیزونو د ایران د تېښتې هڅو په خنثی کولو کې مصر، عمان او کویټ اساسي رول ولوباوه. اوس په منځني ختیځ کې یوازې د ایران له کړنو او پلانونو مخنیوی نه دی؛ بلکې د امریکا ټول ملګري او شریکان له جنوبي کوریا تر لهستانه له زموږ سره دي او هڅه کوي، څو د یران او اسلامي افراطیت له ویجاړیو څخه په نړۍ کې مخنیوی وکړو.» هغه همداراز زیاته کړه: «د ټرامپ اداره هڅه کوي، څو په منځني ختیځ کې یو ستراتیژیک ائتلاف جوړ کړي. څو دا ائتلاف په دغې سیمه کې د ګواښونو پر وړاندې کار وکړي، اقتصادي او انرژیکي همکارۍ ځواکمنې کړي. امریکا متحده ایالات له اسرایلو څخه د ایران نظام د دښمنانه دیسیو پر وړاندې ملاتړ کوي. موږ به په لنډ وخت کې ووینو چې اسرایل به د دغه دسیسو پر ضد ځواک پیدا کړي او لاس پکار به شي. امریکا متحده ایالات د راتلونکو ورځو په جریان کې د قوي دوه اړخیزه اړیکو د ساتلو لپاره کار کوي. زه به د بحرین، اماراتو، قطر، اردن او عمان له رهبرۍ سره ژورې خبرې ولرم. ډېر ژر به په خپلو ګډو موخو خبرې وکړو. لکه څنګه مې چې په دغه اوونۍ کې په اردن او عراق کې خبرې وکړې او نن د مصر له ولسمشر او بهرنیو چارو وزیر سیسي او شکري سره خبرې کوم.»

دا هغه مسایل و، چې پامپیو څرګند کړل؛ خو حقیقت دا دی چې د پامپیو دا خبرې په اسلامي خاورو کې د نفاق تخم کري او د خپلو لاسپوڅو(د اسلامي خاورو حکامو) د ماتولو په موخه نوې فتنې جوړوي. څو دا لاسپوڅي د دوی استعماري پلانونه لا پلي کړي او د یهودو ډېر خدمت وکړي.

موږ غواړو ځینې سیاسي واقعیتونه او هغه دروغ چې امریکا یې د ایران او په غرب او اسلامي نړۍ کې د اسلامي افراطیت په پلمه، د اسلامي خاورو هېوادونو پر وړاندې کوي، اشاره وکړو. څو د دغو واقعیتونو په پایلو پوه شو. دا ټول د امریکا سیاسي درواغ، سیاسي پلمه او غولونکې تګلاره ده، چې پر مټ یې اسلامي سیاسي حرکتونو ته ضربه ورکوي او بر مټ یې غواړي د امریکا د خوښې سیاست پېټ کړي.

۱- په دې کې شک نه شته چې د ایران مسله هغه دروغ دي، چې امریکا رامنځته کړي او هر کله چې وغواړي خپلو موخو ته د رسېدو لپاره ګټه ترې اخلي. ایران د غرب او یهودو دښمن نه دی. ایران له خپل انقلابه تر اوسه د امریکا په

خدمت کې دی او استعماري پلانونه يې پلي کوي. تر ټولو ښه بېلګه يې له امريکا سره د عراق او افغانستان په اشغال کې همکاري وه. امريکا په ۱۹۹۰م کې عراق محاصره کړ. دا هغه څه و چې د ۲۰۰۴م د جنوري په ۱۵مه د ايران د ولسمشر پخواني مرستيال محمد علي ابطحي په ډاګه وويل: «که د ايران ملاتړ نه وای هېڅکله امريکا په دومره اسانۍ نه شوای کولای عراق او افغانستان ونيسي.»

له امريکا سره د ايران همکاري يوازې د افغانستان په اشغال کې نه وه؛ بلکې له امريکا سره په افغانستان کې د ايران د مرستو رول لاهم دوام لري. څکه نو ايران د ۲۰۱۰م د اکتوبر په ۱۸مه د افغانستان په اړه د نړيوالو اړيکو ډلې په کنفرانس کې ګډون وکړ. دغه راز يې له امريکا سره په ۲۰۱۸م کې د تاشکن په کنفرانس کې ګډون وکړ، څو د امريکا له خوښې سره سم د افغانستان ستونزو ته د حل لار پيداکړي.

د ۲۰۱۹م د جنوري په لومړۍ په زنده ګۍ ورځپانه کې د يران د بهرنيو چارو وزير د وياند له خولې - چې د ايران ټلوېزيون خپره کړه - نقل شوي دي: «په تهران کې د طالبانو استازو د ايران د بهرنيو چارو وزير له مرستيال عباس عراقچي سره خبرې وکړې.» قاسمي وويل: «له خبرو اترو لويه موخه د افغانستان حکومت او ډلو تر منځ د سولې د مذاکراتو لپاره د زمينې او چانس برابرول دي.» بهرام قاسمي دا موضوع د ټرامپ تر پلان چې له سوريې او افغانستان څخه د امريکايي ځواکونو وتل و، وروسته مطرح کړه.

۲- له شک پرته چې ايران له غرب سره د اسلام پر وړاندې جګړه کې مرسته کوي. دا هغه څه دي، چې د ايران ولسمشر د ۲۰۱۸م د دسمبر په ۸مه په تهران کې د ترورېزم پر وړاندې مبارزې په نامه کنفرانس کې په ښکاره وويل: «په سيمه کې د تندلاري ترورېزم د رېښو وچول بنسټيزه اړتيا ده.» هغه زياته کړه: «موږ پرېکړه کړې، چې يو بل ته لاسونه ورکړو، د ګډ دښمن پر وړاندې وجنګېږو او پرې بر لاسي شو.» دا هغه مسله ده، چې د روسيې د بهرنيو چارو وزير ميخايل بوګدانوف د ۲۰۱۸م د جون په ۳۰مه مطرح کړه او ويې ويل: «له شک پرته په سوريه کې د ايران د ځينو استازو هڅه دا ده چې د ترورېزم پر وړاندې وجنګېږي.» دغه راز ايران د داعش پر وړاندې، له عراقي ځواکونو خپل ملاتړ اعلان کړی. څکه د ۲۰۱۶م د دسمبر په ۲۷مه معاون هوري دريساوي د سعودي د بهرنيو چارو وزير د خبرو په غبرګون کې وويل: «هغه ملاتړ چې ايران د عراق د شعيه ګانو د خلکو له پوځ څخه کړی، د جنګي وسايلو او مشورې تر ورکړې محدود دی او يوازې د جګړې په پرمختګ کې مشوره ورکوي. نو ايران د ترورېزم پر وړاندې جګړه کې د عراق لاسنيوی کوي؛ خو د جګړې رهبري سل په سلو کې د عراقيانو په لاس کې ده.»

۳- په سيمه کې اېتلاف جوړول هغه موضوع ده، چې امريکا د اوباما په حکومت، د عربي پسرلي په انقلاب په ځانګړې توګه د سوريې په انقلاب کې د ترکيې د رول په پام کې نيولو سره، غوښتلو. د دغه اېتلاف له جوړېدو څخه موخه د سوريې او ليبيا پر مسله سياسي او پوځي څارنه او د حل لار پيداکول دي. چې اوس امريکا د هغې موخې لپاره ډېره هڅه کوي. په ځانګړې توګه له هغه وخته چې ټرامپ له سوريې، عراق او افغانستان څخه د خپلو ځواکونو د وتلو پرېکړه کړې ده. څکه امريکا له سيمې د خپلو ځواکونو د وتلو بديل ته اړتيا لري، څو د دوی له خوښې سره سم کار وکړي. دا هغه مسله ده، چې د ټرامپ په وخت کې د امريکا د ملي امنيت مشاور «مايکل فلين» په ۲۰۱۶م کې په خپل کتاب «د جګړې ډګر او د راديکال اسلام او هم پيمانانو پر وړاندې يې په جګړه کې زموږ حالت» کې ويلي و:

مايکل فلين په دغه کتاب کې ليکلي: «امريکا يوازې په منځني ختيځ کې له خپلو هم پيمانانو پرته نه شي کولی د ايران مخه ونيسي. نو لازمه ده، يوه ناټو جوړه شي، چې د مصر، اردن او خليج دولتونه ورسره يوځای شي او امريکا هم سهم پکې ولري. څکه امريکا په استخباراتي کارونو، د معلوماتو په راټولولو، پرمختللو پروګرامونو، ځانګړو عملياتو، توغنديزو بريدونو او د هوايي ځواک په کارولو کې لوړ لاس لري.

۴- د داعش ډلې مسله چې پامپيو ذکر کړه، له يوې پردې پرته بل څه نه ده چې امريکا ترې د سياسي اسلام پر ضد -چې د واقعي اسلامي دولت د ايجاد لامل دی- کار اخلي. نو امريکا هر وخت هڅه کړې او کوي يې چې هر هغه دولت او ډله چې د غرب له سياست

او د اسلامي خاورو په هېوادونو کې د دوی له نفوذ څخه وځي، دوی ورسره وجنګېږي. دا هغه خبيثې موخې دي، چې امريکا به يې په راتلونکې کې هم ولري او ايران د دغې جګړې پلمه او وسيله ګرځوي. دا هغه څه دي، چې د امريکا په پوځ کې جنرال او د ملي امنيت پخواني سلاکار په ۲۰۱۴م کې ويلي و: «اسلامپال يوازې ساده ګوتي او بربريان نه دي، بلکې دوی په خپله ايډيولوژۍ او ليد، غواړي پر نړۍ حاکميت پيداکړي. دا مسلمانان د کفاحي کتاب کاپي دي، چې ادوليف هېتلر ليکلی و، چې د نازي د تعليماتو اساسات دي.» دغه جنرال د امريکا مسلمانان په امريکا کې د اسلامي دولت په جوړولو تورن کړي او ويلي يې دي: «دا يو تصادف نه شمېرل کېږي، چې د امريکا اسلامپال په ډېره هڅه کې دي، څو د خپل دين لپاره په امريکا کې قانوني ځای پيداکړي او هر ډول انتقاد پر اسلام منعه کړي. نو دا هغه مسايل دي، چې د يوه اسلامي دولت دې جوړېدو لپاره تر سره کېږي.»

دغه امريکايي جنرال په خپل کتاب «د ۲۰۱۶م د جګړې ډګر» کې، چې عربي ناټو پکې غواړي، ويلي دي: «پرته له شکه درې ګواښونه شته او لازمه ده، چې عربي ناټو يې پر وړاندې وجنګېږي: لومړی ګواښ مسلح راديکال اسلام دی. دويم ګواښ، سيمه ييز حرکتونه او ځواک دی، چې نړيوال پلان لري په ځانګړې توګه ايران، هغه ايران چې په لبنان، سوريه، عراق او يمن کې د پوځي ډلو ملاتړ کوي. درېيم ګواښ د هسته يي وسلو ساتل دي (په ملګرو ملتونو کې يې د ايران هوکړه ليک ته اشاره وه). دغه امريکايي جنرال ويلي، چې د تهران هسته يي پروګرام د امريکا ملي امنيت ګواښي.

۵ـ د امريکا په اند د يهودو مسله مهمه مسله ده، چې د سيمې هېوادونه دې ته تيار کړي، څو له هغوی څخه ملاتړ وکړي. څو د ايران او تروريزم مسله د عربي او يهودو دولتونو پر وړاندې د عربي ناټو جوړولو مقدمه وه، چې هماغه سياسي اسلام دی، څو د يهودو دولت وکولای شي د سياسي اسلام پر وړاندې اوس او په راتلونکې کې منظم عمليات تر سره کړي.

دا هغه ګمراه کوونکې سياست دی، چې امريکا يې د غرب په استازيتوب، د اسلامي خاورو په هېوادونو کې پر مخ بيايي. که د مسلمانانو د بې غيرته حکامو خيانت نه وي، امريا هېڅکله نه شي کولای دا خبيث سياستونه عملي کړي.

په پای کې د يادولو ده: استعمار د خپلو مزدورانو په وسيله هڅه کړې، څو خپلې ريښې قوي کړي، خو په دغې پرېکړه کې ناکام شوی او له نيکه مرغه اسلامي امت نه ستړې کېدونکې هلې ځلې کوي، څو د دويم ځل لپاره اسلامي خلافت تاسيس کړي.

**(قَدْ مَكَرَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ فَأَتَى اللَّهُ بُنْيَانَهُم مِّنَ الْقَوَاعِدِ فَخَرَّ عَلَيْهِمُ السَّقْفُ مِن فَوْقِهِمْ وَأَتَاهُمُ الْعَذَابُ مِنْ حَيْثُ لَا يَشْعُرُونَ)**

[النحل: 26]

*ژباړه: تر دوی مخکې هم ورته کسان و چې دا ډول دسيسې او چلونه يې کول، خو الله سبحانه وتعالی يې ددسيسو ژوند له بنياده وران کړ او د کورونه ډېامونه يې پرې ونړول او د دنيا عذاب يې له هغه ځايه پرې راوستل چې تمه يې نه درلوده.*

**له الرايه جريدې څخه اخيستل شوی**

**ليکوال: حمد طبيب**

**۱۴۴۰هـ.ق، د جمادي الاول۳مه**

**۲۰۱۹م، دفبرورۍ۶مه**